مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد معصوم هوتک ۲۰۲۰/۱۲/۰۵

# صدراعظم

## سید نور محمد شاه پښینی کندهاری

### څلرمه برخه

**ما څه موده پخوا د صدراعظم سید نورمحمد شاه پښیني کندهاري په باب څو پرله پسي لیکني خپرې کړې. ځینو دوستانو راځخه وغوښتل چي که دا موضوع یو څه پسي پراخه سي، ښایي گټوره به تمامه سي.**

**ما د دوی غوښتنه ومنله او د مدارکو په محسوسه نېستي کي مي دا څېړنه د یوه کتاب په بڼه ترتیب کړه. که محترم لوستونکي زما د دې حاضري لیکني او په دې باب د نورو خپرو سوو لیکنو ترمنځ مکررات ويني، د مهرباني له مخي دې د احسن تکرار په سترگه ورته وگوري او ما دې وبخښي.**

م. هوتک

**د فوشنجي لقب:**

د امیر شیرعلیخان د صدراعظم ( لوی تول مختار) سید نور محمد شاه له نامه سره  زموږ د تاریخ په مروجو کتابو کي ځای ځای " فوشنجي" لقب هم زیات سوی دئ. او ځینو کسانو دغه فوشنج د هرات اړوند فوشنج گڼلی دئ.زه غواړم چي دا مسئله د اسنادو او مدارکو پر بنسټ یو څه مفصله وڅېړم .

د "بالاحصار کابل"مؤلف اروابناد احمد علي کهزاد د خپل دغه کتاب په ۵۸۵ ـ ۵۸۶ مخونو کي د مرحوم حافظ نورمحمد کهگدای د" اسناد و یاداشتهای تاریخی" په حواله د هغه جشن جریانات لیکلي دي چي د امیر شیرعلیخان د زوی شهزاده عبدالله جان د ولیعهدی له اسیته د کابل په بالاحصارکي جوړ سوی وو او د هغه په ترځ کي ئي د افغانستان لومړی کابینه هم اعلان سوې وه . په دغه کابینه کي د صدراعظم ( لوی مختار) چوکی سید نورمحمد شاه ته ورکول سوې وه او مرحوم کهزاد ئي له نامه سره " فوشنجي" لقب راوړی دئ. دا لقب په نورو لیکنو کي هم تکرار سوی دئ خو د بالاحصار کابل د کتاب تر لومړي چاپ (۱۳۴۰ هـ ش) اته کاله وروسته د اریانا دائرة المعارف په  پنځم توک ۷۴۲ مخ ( چاپ ۱۳۴۸ش)کي ئي د سیدنورمحمد شاه د ژوند لیک په ترځ کي ولیکل چي نوموړی" اصلاً از ناحیۀ فوشنج از مضافات هرات بوده است". ددغي تېروتني اغېزه تر ننه لا هم روانه ده او زه غواړم چي په همدې اوسنی لیکنه کي دا خبره وڅېړم چي د سید نورمحمد شاه په نامه کي له فوشنج څخه مراد پښین ( پشین ، پشنگ) دئ.

پښین د کندهار جنوب ختیځ ته د کوږک غره ها خواته پرته سیمه ده چي تر کویټي (شال) پوري غځېدلي ده. دا سیمه د نونسمي عیسوي پېړی تر اوخرو پوري د کندهار مربوطه سیمه وه چي د گندمک د منحوسي معاهدي له مخي د کندهار له تنه بېله سوه. د پښین په باب به په دریم فصل کي مفصل معلومات ولولئ.
د پشنگ معرب شکل باید( بشنج) وي خو عام شکل ئي د( فوشنج) په شکل راغلی دئ او په ځینو ځایو کي بیا د هرات له " فوشنج" سره مغالطه سوی دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په څیر و لولــئ

## فوشنج چيري دئ؟

د زياترو محققينو په نظر فوشنج د هرات د زنده جان سيمه ده. زنده جان د هرات ولايت لويديځ ته د غوريان خواته واقع دئ او له هرات ښار څخه ئي فاصله نژدې څلويښت کيلومتره ده. ويل کيږي چي د فوشنج تاداو (تهداب) پوشنگ ته منسوب دئ او عربو دغه پوشنگ د تعريب د اصولو له مخي په ( فوشنج) اړولی دئ. صدرالدين ربيعي چي د کرت پاچهانو د دربار شاعر وو، ويلي دي:

که هوشنگ پوشنگ را ساخته است
چه خرم بـهشـتـش بـر آراسته است

(وگ: د علامه رشاد جغرافيايي يادښتونه ـ صـ ۳۵۷)

فوشنج د پوشنگ، پُشنگ معرّب شکل دئ او فوشنجی (fošanjay) د پښينگی - پيشنگی معرّ به بڼه ده.
د هرات ښار ته څرمه د پوشنگ، پُشنگ نامه ته منسوب يو ښار ودان وو چي معرّب شکل ئي په تاريخو کي " فوشنج" ثبت سوی دئ. وايي چي پوشنگ، پُشنگ د توران د پاچا افراسياب پلار وو. فردوسي ويلي دي:

نخواهيم شاه از نژاد پشنگ
فسيله نه نيکو بود با پلنگ

(فسيله د اسانو، اوښانو، خرو گلي ته وايي)

پوشنگ د" بوشنج، فوشنگ،بوشنجه، بوشنگ په املاوو هم ليکل سوی دئ. په لغتنامهٔ دهخدا کي ئي د معجم البلدان په حواله د هرات په لس فرسنگي کي بللی دئ او د تاريخ بيهقي په حواله ئي ادا خبره هم پر زياته کړې ده چي پوشنگ (پيشنگ) " قريه است ميان قندهار و ملتان".

دغه ځای چي بيهقي ئي د قندهار او ملتان تر منځ راښيي، پښين دئ چي د " پيشين، پيشينگ" په شکل هم کتابونو راوړی دئ. په پيشنگ باندي د پښين د نامه اړولو ژبني دلايل ما په نورو ليکنو کي کښلي دي. د پښين اوسيدونکو ته په محلي محاوره کي" پښينگی" وايي. پښينگی مذکره کلمه ده او فونوميکي بڼه ئي (pşingay) ده. د پښينگی مفرّس شکل پيشنگی او معرّبه بڼه ئي "فشنجی" کيږي. په عربي کي د ابتدا بالساکن محال توب د فشنجی کلمي (ف) ته زېر (کسره) ورکړې ده. په عربي او فارسي د حرکتونو يا د علت د تورو ابدال او سره اړول عام قانون دئ. موږ د فارسي او پښتو په زياتروکلمو کي د (ياء) او ( واو) پر ابدال باندي پېښيږو(۳۶).

د همدې ژبني قانون له مخي له فِشنجی څخه " فوشنجی" جوړ سوی دئ. خو پام مو وي چي د هرات فوشنج ته منسوب " فوشنجی" او د پښينگي معرّب شکل" فوشنجی" د جنس او تلفظ په لحاظ ډېر توپير لري. فارسي او پښتو الفباء چي د آوازونو د ترسيمولو په برخه کي نيمگړې ده، ادا دواړه کلمي په يوه راز املاء ليکي. خو فونوميکي شکل ئي موږ ته توپير ښه ترا واضح کولای سي : په دې ډول:

د هرات فوشنج ته منسوب فوشنجی = ( fošanji)

د پښينگی، پيشنگی معرب فوشنجی = ( fošanjay)

په لومړي فوشنجی کي د پای (ياء) د نسبت (ی) ده او په منسوب اليه کلمه کي شامله نه ده.
خو په دوهم فوشنجی کي دپای (ی) د کلمي جزء ده او له نسبتي (ياء) سره ئي مغالطه کول په ژبپوهنه کي د نابلدی نخښه ده.

اروابناد استاد فکري سلجوقي ( ۱۲۸۸ـ ۱۳۴۷ش) د "مزارات هرات" په تعليقات صـ ۱۳۹ کي د پوشنگ (فوشنج) په باب کښلي دي:

"اين قصبه يا شهر فوشنج که بقولی در ده فرسخی و بروايتی در هفت فرسنگی هرات واقع بوده هم اکنون بفاصلهٔ شش يا هفت فرسخ در جنوب غربی هرات واقع است . شهر پوشنگ يا فوشنج که معرّب پوشنگ است چندين بار بخرابی رسيده و بار آخر امير تيمور در جنگ و جدالی که با غياث الدين پير علی آخرين شاه آل کرت نمود، پوشنج را بکلی خراب و اهل آنرا قتل عام نمود. و ظاهراً بعد از اين خرابی ديگر بحال آبادی اصلی نرسيد و در عوض،


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

یکی از دهات آن بنام زندگان (زندجان حالیه) آباد گردید و زندجان نیز از قدیم الایام آباد و از دهات یا محلات فوشنج بود...

در فوشنج مزارات بسیاریست که بعضی صاحب نام و شهرت و برخی بی نام و نشان است."

ترجمه: "دا کلی یا ښار چي ځینو د هرات په لس فرسخي او ځینو بیا په اووه فرسخي کي بللی دئ، همدا اوس د هرات په جنوب لویدیځ کي د شیږو یا اوو فرسخو په واټن پروت دئ. د پوشنګ ښار چي معرّبه بڼه ئي فوشنج دئ، څو واره وران سوی دئ او وروستی ځل امیر تیمور په هغه جګړه کي وران او اوسېدونکي ئي قتل عام کړل چي د آل کرت د وروستي پاچا غیاث الدین پیر علي سره ئي کړې وه. تر دغي ورانی وروسته نو لکه چي بیا خپل اصلي حالت ته نه ورسېد او پر ځای ئي د هغه یو بل کلی زندګان (اوسنی زندجان) ودان سو. زندجان هم له پخوا زمانو څخه د فوشنج یو کلی وو.

په فوشنج کي ډېر زیارتونه سته چي ځیني ئي مشهور او ځیني نور ئي بي نومه و بي نښانه دي."
تر دي وروسته د فوشنج د مزاراتو په برخه کي د شیخ ابوالحسن پوشنجي، بانو عالیهٔ پوشنجي، خواجه محمد غازي یادوني لري.

مرحوم فکري سلجوقي چي د ښاغلي آصف فکرت په خبره" وجب وجب خاک هرات را چون کف دست خویش می شناخت (۳۷)"، د هرات د فوشنج د راپېژندلو په ترڅ کي د ساداتو هیڅ راز اشاره نه لري او که رشتیا هم د سید نورمحمد شاه کورنی او اسلاف ددغه فوشنج اوسېدونکی وای، نو دا غیر اغلبه وه چي د فکري سلجوقي په شان لوی محقق دي ددغي مشهوري کورنی یادونه له قلمه پرې ایښي وي.

اروابناد عزیزالدین وکیلي پوپلزي د هرات د فوشنج او د کندهار د پښین تر منځ د مغالطي په باب کښلي دي:

"سادات فوشنج از قدیم روشناس سلاطین افغان و از زعما ولایت خود شان بوده اند...

در سراج التواریخ جلد اول و دوم و هم در لوح مزار سید محمد شعیب شاه در قندهار و لوح مزار امیر محمد افضل خان در کابل بخط سید عطامحمد شاه مسکن افراد این خاندان فوشنج ذکر شده و اینکه بعضاً آنرا پیشین از توابع قندهار میدانند شاید درست باشد اما در لوح مزار شاه عبدالعظیم آقا در قلعهٔ قاضی که آنوقت سید عطامحمد الحسینی حیات داشته و مواد تاریخ از زبان شان شنیده شده است اینطور نگاشته اند: " غواص بحر طریقت و آشنای رموز حقیقت سید عبدالعظیم مشهور به شاه آقا ابن غفران مآب سیدمیراجان ولد مرحوم سید محمد شعیب شاه قوم شکرزائی که از اجلهٔ سادات معروف قوم فوشنج قندهار بوده..."
و معلومات دیگری که از زبان سیدعطامحمد شاه در تاریخ ارتحال عبدالعظیم شاه آقا در یکی از شماره های سراج الاخبار انشراح یافته مسکن آبائی شان تکراراً بلفظ فوشنج قندهار نشان داده شده است...
و مقصد اصلی ما راجع به کلمهٔ فوشنج و پشین بوده که اصلاً فوشنج در غرب هرات بود، ولی پشین مربوط ولایت قندهار بین کوژک و کویته واقع است.
و این سادات از این جا اند ولی از زمان قدیم املای پشین را هم فوشنج نوشته اند، که نباید بین این دو موقع اشتباه و التباس نمود."(۳۸)

ترجمه: د فوشنج ( پښین) سادات له پخوا څخه د افغان پاچهانو په دربارو کي مخور خلک او د خپل ولایت مشران ول.

دا خبره رشتیا ده چي د سراج التواریخ په لومړي او دوهم ټوک، دغه راز د په کندهار کي د سید محمد شعیب شاه پر شنخته او په کابل کي د امیر محمد افضل خان پر شنخته د سید عطا محمد شاه په خط ددغي کورنی د افرادو استوګنځی فوشنج بلل سوی دئ او ځیني بیا دغه ( فوشنج) د کندهار له توابعو څخه بولي. خو په قلعهٔ قاضي کي د شاه عبدالعظیم د مزار پر شنخته باندي ئي چي په دغه وخت کي سید عطاء محمد حسیني ژوندی وو او د تاریخ مواد ئي دده له خولي اورېدلي دي، داسي لیکلي دي : " غواص بحر طریقت و آشنای رموز حقیقت سید عبدالعظیم مشهور به شاه آقا ابن غفران مآب سیدمیراجان ولد مرحوم سید محمد شعیب شاه قوم شکرزائی که از اجلهٔ سادات معروف قوم فوشنج قندهار بوده..."

دغه راز د عبدالعظیم شاه د رحلت په هغه تاریخچه کي چي د سراج الاخبارپه یوه ګڼه کي خپره سوې ده او معلومات ئي د سید عطا محمد شاه له خولي بیان سوي دي،د دوی پلرنی ټاټوبی ئي په تکرار سره د کندهار د فوشنج په کلماتو ښوولی دئ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

زموږ اصلي مقصد د فوشنج او پښين د کلماتو په باب وو چي اصلاً فوشنج د هرات په لويديځ کي وو او پښين د کندهار ولايت مربوط او د کوږک او کوټي تر منځ واقع دئ.

دغه سادات د همدې ځای (پښين) دي خو له پخوا زمانو څخه ئي د پښين املاء فوشنج ليکلی ده او بايد چي دغه دوه ځايونه سره اشتباه او التباس نه سي.

ددي له پاره چي د سيد نورمحمد شاه قندهاري له نامه سره ددغو دوو فوشنجونو خبره نوره هم سپينه سي په پښين کي ددغه مرحوم د جايداد هغي قبالي ته مراجعه وکړو چي عين اصل او نقل ئي د اريانا مجلي د ۱۳۴۸ش کال د اسد ـ سنبله گڼي په ۷ مخ کي چاپ سوی دئ.

ديادي سوي قبالي په يوه برخه کي داسي راغلي دي:

"ذکر حدود همگی و تمامی آب و اراضی در محال فوشنج از قرار تفصيل ذيل:

ذکر حدود آب و اراضی هجده سهم قنات گلستان، شرقاً می رسد بطبقه بگهی؟، غرباً می رسد به بر هنه و توبه، شمالاً می رسد به زمين قنات روغانی، جنوباً می رسدبه ممر عام کوږک..."

د قبالي د متن په دغه برخه کي راغلي نومونه:

**گلستان:** اوس هم د پښين د ناوې مشهوره سيمه ده.

**بَر هنه:** هَنه يو کوچنی رود دئ چي اوبه ئي د نل په توسط د کويټي ښار ته راځي. هَنه سره سيمه ده او د مېلو ځای دئ. زه (هوتک) څو واره ورغلی يم. بر هنه يعنی لوړه هنه (هنه عليا).

**توبه:** د پښين ناوې په شمال ختيځ کي غرنی سيمه ده چي اڅکزي او کاکړ پکښي اوسي. د اڅکزو توبه او د کاکړو توبه سره بېلي دي. لوی احمدشاه بابا په همدې توبه کي وفات سو( ۱۱۸۶هـ ق).

**روغانی:** د پښين په شمال لويديځ کي پراخه اورشو ده چي ډېر کارېزونه پکښي دي.

**کوږک:** د خواجه امران غره پښتو نوم دئ چي د چمن او پښين تر منځ پروت دئ. دادوی سيمي د کوږک تونل له لاري سره وصل کيږي.

**بگهی** کلمه مي ونه پېژندله.

پر قباله د قندهار د قاضي غلام محمد مهر سته او دا ددي ثبوت دئ چي د پښين جايدادونه د کندهار د محکمي له خوا ثبت کېدل او پښين د قاضي غلام محمد د قاضي توب تر وخته (د کندهاري سردارانو د واکمنی تر مهاله) د کندهار جزء وو. د پښين اوسېدونکي کندهاريان ول.

له دې توضيحاتو څخه به محترمو لوستونکو ته ثابته سوې وي چي د سيد نورمحمد شاه له نامه سره تړلی فوشنج به چيري واقع وو؟ په قباله کي راغلي ځايونه ټول د پښين اړوندي سيمي دي، نه د هرات د اړوند "فوشنج".

د پښين د ساداتو مشري له ډېر پخوا څخه د سيد نورمحمد شاه د کورنی پر غاړه وه. امير شيرعليخان چي لومړی وار د پاچهی پر تخت کښېنوست ، ددغي پاچهی په وروستي کال ۱۲۸۲هـ ق = ۱۸۶۵م ئي د يوه فرمان په ذريعه سيد نورمحمد شاه د پښين د ساداتو مشر وټاکه او د پښين د" کلانتر" په توگه ئي مقرر کړ. په دغه تقرري فرمان کي ئي د" پښين" املاء د "پشين" په شکل کار کړې ده. او دا فرمان پر دې مسئله باندي" گواه سلطانی" دئ چي له فوشنج څخه مراد "پښين" دئ ، نه د هرات فوشنج.

**د فرمان متن:**

"حکم سرکار اشرف همايون والا شد اينکه:

عاليجاه عزت دستگاه سيد نورمحمد شاه ولد سيادت پناه سيد سليمان شاه مرحوم که از ابا و اجداد معتبر و کلانتر و مِلِک قوم خود و کل طوائف سادات پشين بود ، چونکه سيد موصوف قابل و لايق ميباشد لهذا از حضور لامع النور سرکار والا چنان مقرر گرديد، که سيادت پناه موصوف بر منزلهٔ سابقهٔ کلانتر و مِلِک قوم سادات پشين باشد، و لازم


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولئ

که جمله سادات اکابر پشین و مقیمان اطراف قندهار سید موصوف را کلانتر خود دانسته و از امر و صلاح مشار الیه تجاوز و انحراف نورزند، که جمیع خیر و شر دیوانی سادات تعلق به سید موصوف دارد و تخلف و انحراف از امر و صلاح کلانتر باعث نقصان کلی خواهد بود و علی الدوام سید موصوف ساعی و متوجه خیراندیشی قوم سادات باشند، از ایشان تماماً پاس اعزاز و اکرام کلانی بجا آورده بی اتفاقی نورزند. تاکید دانید.

تحریر ۲۹ ربیع الثانی سنه ۱۲۸۲ هـ ( محل مهر امیر شیر علیخان)".

په دغه کال د امیر شیرعلیخان او دده د ورور سردار محمد امین جان ترمنځ د کجباز په سیمه کي خونړی جګړه پېښه سوه او په هغي کي د امیر زوی محمد علی جان او ورور ئي سردار محمد امین دواړه ووژل سول او تر جګړې یو کال وروسته د امارت مقام سردار محمد افضل خان ته ورسېد. دوه کاله وروسته د امیر شیر علیخان د دوهم وار سلطنت پر وخت نوموړی سید نور محمد شاه د صدراعظم ( لوی مختار) په توګه مقرر سو.

سردار محمد امین خان د خپل پلار امیر دوست محمد خان تر وفات وروسته د کندهار مستقل واکمن وو. دده د واکمنی په وخت کي هم سید نورمحمد شاه د پښین د مشر په توګه منل سوی وو. په یوه فرمان کي چي د سردار محمد امین خان په مُهر د سید نورمحمد شاه په نامه صادر سوی دئ، له ده څخه غوښتل سوي دي چي د پښین یو یاغي شخص ملک کطون (۳۹) ژر تر ژره ګرفتار کړي .

## د ځلرمي برخي لمنليکونه:

۳۶ـ دیر ـ دور. از دیر زمان = از زمانه های دور
بیرون په هزارګی لهجه کي " بور" سوی دئ. یعني د بیرون کلمي (یاء) په ( واو) اوښتي ده.
میر، میرا ـ چي مؤنث شکل ئي " مورا" ده او د (یاء) او (واو) اوښتنه پکښي وینو.
د پښتو په ځینو لهجو کي خور = خېر، مور= مېر تلفظ کېږي
۳۷ـ آن روزها ـ د آصف فکرت لیکنه ، fekrat.kateban.com وېبپاڼه
۳۸ـ وکیلی، عزیزالدین، هنر خط در افغانستان در دو قرن اخیر، صـ ، حاشیهٔ ۱، چاپ انجمن تاریخ، ۱۳۴۲ش
۳۹ـ د علامه حبیبي له یاداښت سره سم د کطون نوم باید کتون = کتان وي. په قبایلي سیمو کي د کتان،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مور سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ